AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۵/۲۶

# ښاغلي عبدالباري جهاني ته یوپرانیستی لیک

دا په تېرو پنځو کلونو کي عبدالباري جهاني صاحب ته زما څلورم پرانیستی لیک دئ. په دې ټول موده کي مي نه کوم جواب ترلاسه کړی دئ، نه کوم غبرګون! او رشتیا خبره دا ده چي زه ئې تمه هم نه لرم. بس یوه هیله لرم، هغه دا چي جهاني صاحب دي دا خبري ولولي او لږ تر لږه دي پکښي وړاندي سوي وړاندیزونه په غور سره وارزوي.
زه د جهاني صاحب څخه د عمر، تجربې او مقام له پلوه کښته او کشر یم، خو صادقانه مشوره ورکول هېچا ته زیان نه رسوي. انسان خپل نظر وړاندي کوي، او دا بیا د مقابل لوري اختیار دئ چي هغه مني که ئې نه مني.
جهاني صاحب، تاسو یوه عامه او پېژندل سوې څېره یاست. یو ښه شاعر خو ډېر زیات شهرت لري، بلکه کله ناکله د سیاستوالو او هنرمندانو تر نفوذ هم ژور اغېز لري، ځکه شاعران یوازي شعرونه نه لیکي، بلکه د ولسونو احساسات، حافظه، هویت او روحي نړۍ هم جوړوي. کله چي یو عامه شخصیت خپل افکار په عامه توګه خپروي، نو طبیعي ده چي خلک به هم آزادانه پرې خپل نظر څرګندوي. دا د معاصرې نړۍ طبیعي ځانګړنه ده.
ټولنیزي رسنۍ یوازې د اخلاقي، با ادبه او فکري پخوالي لرونکو خلکو ځای نه دئ. دلته داسي کسان هم سته چي له غوسې، روحي فشار، عقدو او ناخوښیو ډک دي، داسي کسان چي د سالم بحث او اختلاف له فرهنګه بې برخي دي.
ډېر کسان د مستعارو نومونو او مجازي پردو تر شا پټ وي او هغه څه وایي چي ښایي په حقیقي ژوند کي ئې هېڅکله د ویلو جرئت نه لري. په دې فضا کي نه حساب سته، نه توازن، او نه هم کوم جدي اخلاقي بندوبست.
ځیني خلک ټولنیزې رسنۍ د دې لپاره کاروي چي خپله غوسه، مایوسي، رواني فشار او دروني تریخوالی پر نورو وباسي، په ځانګړي ډول پر هغو کسانو چي مشهوره، نرم خویه او د عامو خلکو خوښ وي. په معاصري مجازي نړۍ کي دې چلند ته "ټرولینګ" ویل کېږي.
ټرولینګ هغه عمل ته ویل کېږي چي یو څوک په قصدي ډول بل انسان په آنلاین فضا کي تحقیر کړي، و ئې ځوروي، و ئې لمسوي، سپک ئې کړي یا ئې شخړې ته را کش کړي، یوازي د دې لپاره چي ګډوډي رامنځته کړي، پام ځان ته راواړوي، او یا خپل دروني تریخوالی تخلیه کړي. دا یوعادي چلند نه دئ، بلکه د ټولنیزو رسنیو د عصر یو بشپړ ټولنیز بحث ګرځېدلی دئ.
خو جهاني صاحب، زما ستاسو څخه یوه درنه ګیله دا ده چي ولي لا هم دا تمه لرئ چي هر څوک به ستاسو د مصاحبو تر لیدلو یا لیکنو تر لوستلو وروسته پر تاسو د ګلونو باران کوي؟
په ډېر درنښت سره وایم، ښایي همدغه ئې وخت وي چي له دې تمي څخه تېر سئ. هغه څوک چي په عام محضر کي خپل فکر بیانوي، په ځانګړي ډول هغه څوک چي ځان د حقیقت ویلو مسؤل ګڼي خاماخا به له مخالفت، نیوکي، ملنډو او حتی سپکاوي سره مخ کېږي. دا یوتریخ حقیقت دئ!
تاسو کلونه په همدې ټولني کي ژوند کړی دئ. تاسو زموږ خلک تر هر چا ښه پېژنئ. له بده مرغه، زموږ د ټولنیز حالت یوه برخه همدا توندخویي او بې زغمي ده، او موږ اړ یو چي د دې واقعیت پر وړاندي د ټېښتي پر ځای په ځان کي د مقابلې توان پیدا کړو.
یوازې تاسو نه یاست چي له دې وضعیت سره مخ کېږئ.
د هالیووډ ستوري له دې حالت سره مخ دي.
د بالیووډ هنرمندان ورسره مخ دي.
ولسمشران، لومړي وزیران، فیلسوفان، لیکوالان، ژورنالیستان، دیني عالمان، روڼاندي، چپي او راستي سیاستوال، ټول د خپلو تبصرو په برخه کي له همدې تریخ واقعیت سره مخ دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

که د نړۍ د سترو شخصیتونو د ټولنیزو رسنیو د تبصرو برخي وګورئ، نو هلته به له سپکاوي، ملنډو، تورونو او سختو خبرو ډکي جملې ووینئ. کله چي انسان دا هر څه ویني، نو بیا پوهېږي چي ستاسو پر وړاندي سوي نیوکي د نړۍ د ډېرو مشهورو شخصیتونو له تبصرو سره هېڅ د پرتلې وړ نه دي.
دې خبري زه حیران کړم چي ستاسو د تبصرو برخه بیا د اوږدې مودې لپاره تړل سوې وه، او اوس هم په محدود ډول پرانیستل سوې ده.
هغه څوک چي ځان زړه ور ګڼي، د حق ویلو دعوه لري، او غواړي د خلکو ذهنونه بدل کړي، باید د خلکو له تبصرو او مخالفتونو څخه و نه ببرېږي. څوک چي د بدلون، الهام او فکري بیدارۍ دعوه لري، هغه باید د مخالفت د زغملو ځواک هم ولري.
د خلکو تبصرې ستاسو شخصیت نه تعریفوي. ټرولینګ ستاسو ارزښت نه کموي. د بې ادبو سپکاوی ستاسو مقام نه ټیټوي. غر خپل لوړوالی په دې نه بایلي چي خلک ئې په کاڼو ولي.
جهاني صاحب، خپل د تبصرو برخه بېرته پرانیزئ.
عامه فضا د غوسه ناکو او بې‌مسؤلیته کسانو لپاره مه پرېږدئ. پرېږدئ چي خلک خبرې وکړي، مخالفت وکړي، نیوکي وکړي، تاسو ئې په مقابل کي زغم، وقار او ارامتیا ښکاره کړئ چي هغوی دا مثبت خویونه درڅه زده کړي.
زړه ورتیا یوازې دا نه ده چي انسان دي بې باکه خبري وکړي، اصلي دلاوري دا ده چي انسان د شور، مخالفت او حملو تر منځ هم مصمم ولاړ وي.
د نړۍ ستر مفکران په دې ستر نه سول چي ټولو خلکو ورته چکچکي کولې، بلکه ځکه ستر سول چي د مخالفتونو باوجود تر خپلو خبرو تېر نه سول. تاسو هم د هماغو خلکو په قطار کي ودرېږئ، له مخالفتونو څخه مه ځغلئ!
زه، د یوه مینه وال او احترام لرونکي لوستونکي په توګه، نه غواړم ووینم چي یو ستر شاعر دي د هغو نا معلومو کسانو له امله زړه ماتی سي چي د پردو تر شا ناست دي.
د شاعر دنده یوازې د ښکلو شعرونو لیکل نه دي،
د شاعر روزګار دا هم دئ چي د بدرنګو خبرو د زغملو حوصله ولري.

په درنښت
محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ